# کله مې پېرزو شې په بمونو پېښوره

مشتاق مجروح یوسفزے

په صوبائي دارالحکومت پېښور کښې د اکتوبر په میاشت کښې چې په دې لړو ورځو کښې پرله پسې کومې بم چاودنې وشوې هغې د دې ښار اوسېدونکي د ډېرې لویې ویرې ترهې سره مخ کړي دي، کاروبارونه په ټپو ولاړ دي او بازارونه داسې ښکاري لکه چې مغلو لوټ کړي وي. هسې خو هره یوه چاودنه چې کېږي نو ډېر بې ګناه خلق او سیکیورټي اهلکار پکښې شهېدان کېږي خو د اکتوبر د میاشتې ۲۰۰۹ په اتویشتم تاریخ چې کومه چاودنه د پېښور ښار په مصروف ترین بازار چړیکوبان کښې وشوه هغې دومره لویه تباهي راوسته چې تر اوسه دومره تباهي په یوه چاودنه کښې نۀ وه شوې. په دې چاودنه کښې چې کومو بې ګناه او بې خطا خلقو د ژوند نه لاسونه ووینځل په هغوي کښې واړۀ ماشومان او زنانه هم په لوئے شمېر کښې شاملې دي. تر اوسه پورې د دې چاودنې په نتیجه کښې یو سل دیارلس تنه شهېدان شوي او د دوه نیمو سوو نه زیات ژوبل شوي دي او ډېر خلق تر اوسه بې درکه دي، غالب ګمان دے چې د دغو خلقو مړي د ملبې لاندې پراتۀ دي.

پېښور چې د پښتونخوا د حکومت د سرښار حېثیت لري همېشه د بم چاودنو ښکار پاتې شوے دے خو په موجوده وخت کښې د دهشت ګردۍ خلاف شروع شوي جنګ کښې د دې ښار د اوسېدونکو د قربانۍ برخه د نور هر چا نه زیاته ده. د بیت الله محسود په ډرون حمله کښې د وژلے کېدو او بیا د اپرېشن راه نجات د شروع کېدو نه پس د دهشت ګردو مخه زیاته پېښور پله راواړېدلې ده چې په نتیجه کښې ئې صرف د اکتوبر په میاشت کښې تر اوسه څلور خطرناکې چاودنې شوي دي. په اکتوبر کښې وړومبۍ چاودنه په خېبر بازار کښې شوې وه چې پکښې د پنځوسو نه زیات کسان شهیدان شوي او د دوو سوو نه زیات زخمیان شوي وو.

دوېمه چاودنه په شپاړسم اکتوبر کوهاټ روډ ګلشن رحمان کالونۍ کښې شوې وه چې پکښې یو ماشوم شهید شوے او دولس دیارلس تنه ژوبل شوي وو.



دربمه چاودنه په حیات آباد فیز ۲ کښې په سوان هوټل کښې شوې وه چې پکښې پینځلس تنه زخمیان شوي وو. خو د شورو په ورځ په اتویشتم اکتوبر د مینا بازار سره خوا کښې د چړویکوبان چاودنې د ټول پېښور او سېدونکي په یو لوئے غم کښې گرفتار کړل. دې چاودنې سره سمدستي خواوشا دکانونو او کورونو کښې اور ولگېدو او د سترگو په رپ کښې د دکاندارانو د لکونو روپو مالونه خاورې ایرې شو. دې چاودنې سره د خواو شا ځنې کورونه راپرېوتي هم دي چې تر دربو ورځو پورې حکومتي اهلکار د ملبې د لاندې د لاشونو په لټولو کښې لگیا وو. دې چاودنه کښې یو جومات هم شهید شوے دے، د جومات په تاخانه کښې دننه ناست طالب علمان چې دغه وخت روتې ته ناست وو ټول شهیدان شوي دي. د دې چاودنې متعلق چې کوم معلومات سیکیورټي ایجنسو حاصل کړي دي نو هغه دا دي چې دا حمله خودکُش نهٔ وه بلکې بارودي مواد په یو موټر کښې نصب شوي وو.

د پاکستان ټول تجزیه نگاران په دې خبره متفق دي او په پرنټ او الیکټرانک مېډیا ئې د دې خبرې بیا بیا ذکر کړے دے چې طالبان به اوس د عوامي مخالفت د ویرې د دې پېښو ذمه وارۍ نهٔ قبلوي او دا خبره د عقل نه لرې هم نهٔ ده چې کوم عناصر په زرگونو بې گناه خلق په وینو لمبولے شي نو هغوي ته دروغ وئیل ډېر وړوکے او معمولي کار ښکاري. کهٔ لوستونکو ته یاد وي نو د بېت الله محسود په ډرون حمله کښې د مړ کېدو نه پس د هغهٔ ترجمانانو او نورو د تحریک نمائنده غړو پرله پسې دروغ وئیل چې هغه ژوندے دے. ځکه نو کهٔ حکیم الله محسود یا د هغهٔ ترجمان د دې چاودنې د ذمه وارۍ اخستو نه انکار کوي خو عوامي حلقې د هغوي دې خبرې منلو ته تیارې نهٔ دي.

د سیکیورټي ایجنسو د سختو انتظاماتو باوجود د دې چاودنو کېدل د تشویش خبره ده. پکار ده چې پولیس او نورې سیکیورټي ایجنسۍ په دې حقله نور هم کوټلي گامونه پورته کړي او چې تر کومې پورې د راه نجات اپرېشن جاري وي تر هغې د پېښور ښار د اوسېدونکو دپاره سخت نه سخت انتظامي اقدامات جاري وساتي چې آئنده داسې المیه مخې ته را نهٔ شي او دهشت گرد عناصر د نورو بې گناه خلقو په وینو تویولو کښې کامیاب نهٔ شي.

